## بسم الله الرحمن الرحیم

**خبر او تبصره**

# هغوی چې موږ ته دوکه راکوي، له موږ څخه نه دي

**خبر**

د ایران او ترکیې ترمنځ د دیني همکارۍ توافق په انقره کې لاسلیک شو. د ترکیې د دیني چارو وزیر علي ارباس او د ایران د اسلامي جمهوریت د اسلامي فرهنگ او اړیکو وزیر ابوذر ابراهیمي ترکمن په انقره کې سره راټول او دغه تړون یې لاسلیک کړ. (خبري اژانسونه)

**تبصره**

د ترکیې او ایران تر منځ د دوستۍ په یاد تړون کې پر دې ټینگار وشو، چې دواړه هېوادونه به د سختدریځۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره سیمینارونه نیسي او د امت د یووالي لپاره به هڅې کوي. همدارنگه دواړه هېوادونه به د دوه اړخیزو موضوعاتو په ځانگړي ډول د قدس په اړه پروگرامونه جوړوي. کله چې د دواړو اړخونو کړنې د امت د یووالي او قدس د ازادۍ په هکله وڅېړل شي، دا به په ډاگه شي چې د دغو موضوعاتو په اړه ټولې تر سره شوې خبرې اترې غولوونکې او دروغ دي. یا په بل عبارت، القدس چې د ازادۍ لپاره کلونه کلونه انتظار باسي او د سوریې ۹ کلن پاڅون چې د چراغ د پلتې په شان نفس وباسي، د نقابونو تر شاېې د خلکو اصلي څېرې ښکاره کړلې. نور څه پاتې دي؟ دا هغه هېوادونه دي چې د رهبرانو خبرې یې له عمل سره ډېر تناقض لري؛ د دوی شوم پلانونه لا پاتې دي.

اې هغو ډلو تاسو په دروغو ادعا کوئ چې دغه تړون مو د امت د گټې لپاره دی! په داسې حال کې چې موږ ته مو هر څه معلوم دي. د دې پرځای چې امت ته یووالی راوړئ، په بېلابېلو چلونو او فرېبونو مو امت ټوټه ټوټه کړ او تاسو د «سایکس-پیکو» هغه ناوړه تړون ته چې امت په خیالي پولو ویشي، ژمن یاست. موږ پوهېږو چې تاسې څومره په خپلو زهرجنو مفکورو سره د امت د یووالي مخنیوی وکړ. همدارنگه موږ پوهېږو چې تاسې څومره د غربي پلانونو له لارې سره څنگ په څنگ روان یاست. د جینوا، استانا او سوچې کنفرانسونه د کافرو استعمارگرو هغه پیل شوې لوبې او غوښتنې وې، چې په پایله کې یې د سوریې انقلاب ته د پای ټکی کېښود. موږ بیا هم پوهېږو

چې تاسو په دغه لوبه کې خپل رول ته څومره مخلص یئ. مور تاسو له خبرو څخه نه، بلکې ستاسو له اعمالو څخه مو پېژنو. هغه څه دي، چې تاسو اړ کوي، ترڅو حق ته د ناحق جامهورواغوندئ؟

مهمه نه ده چې په متن کې څه دي، خو د سوریې په انقلاب کې د اېران وژونکی رول ښکاره دی. که ترکیې ته پام وشي، د سوریې په انقلاب کې د دغه هېواد سیاست هم د مسلمانانو پر خلاف او د بشرالاسد په ملاتړ و. خو کله چې دغه دواړه جنایتکاره هېوادونه امت ته افشا کېږي، نو د امت د خوښې او د خپلو جنایتونو د پټولو لپاره غولوونکې ویناوې کوي او د دې یوازنۍ مانا یې دا ده، چې ړوند پر نورو ړندو باندې حکومت کوي. ترڅو چې د دوی ظلمونه روان وي، د دغو تړونونو لاسلیک بیا یوازې فرېب او دوکه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَنْ غَشَّـنَا فَلَيْس مِنَّا»**

(المسلم)

***ژباړه:*** *څوک چې له موږ سره فرېب کوي، له موږ څخه نه دي.*

د ترکیې د دیني چارو د وزیر دا خبره چې «د امت یووالی باید پیاوړی شي» د مسلمانانو پر مظلومیت د ترکیې اقرار په ډاګه کوي. ایا هغه اېران چې لاسونه یې د سوریې د مسلمانانو په وینو رنګ دي او په منظم ډول په سوریه او لبنان کې د مسلمانانو نسل وژنې ته دوام ورکوي، هغه هم د امت د یووالي ټینګښت غواړي؟ هغه اېران چې د نړۍ په کچه یې له مسلمانانو سره خیانتونه وکړل، ایا اوس د مسلمانانو د بیا یووالي غوښتنه کوي؟ یا هغه ترکیه چې د مسلمانانو غوښتنې ته به یې هېڅ ارزښت نه ورکاوه؟ هغه سیاستوال چې د مسلمانانو ژوند، عزت او ارزښتونو ته یې هېڅ پام نه کاوه او د غربیانو پلانونه به یې په ډېر اخلاص عملي کول، اوس غواړي چې د ورورولۍ د تړونونو په لاسلیکولو سره خپل خیانتونه پټ کړي. د دوی موخه دا ده، چې په خپلو غولوونکو خبرو سره مسلمانانو ته فرېب ورکړي.

د ترکیې د دیني چارو وزیر چې له تهران سره یې نوموړی تړون د اسلامي امت د یووالي په وینا پیل او لاسلیک کړ، نو ایا دوی د اېراني ځواکونو ۹ کلن وحشي عملیات، دوه مخیتوب او نفرت له یاده ایستلي دي؟

افسوس! زموږ وروڼه باید د ترکیې او اېران ترمنځ د دیني همکارۍ د تړون په اړه معلومات ولري او ویې څېړي چې په سوریه کې چا د غربي کفارو د پلانونو د عملي کولو لپاره ښځې، ماشومان، سپین ږیري او په زرګونه نور مسلمانان له فقر، لوږې او حتا مرګ سره مخ کړل. دا باید ښکاره وي چې د اوښکو تویول د خیانتونو او دردونو له

امله وو، نه د خوشحالۍ او ویاړ لپاره. په هغه ورځ به د کفارو له سترګو څخه خوب وتښتي، کله چې راشده خلافت له خپل شان او شوکت سره یو ځل بیا تاسیس او د مسلمانانو ژوند ته راوګرځي. په هغه ورځ به د کفارو شیطانت او توطیې د خلافت پر وړاندې ونه چلیږي. له هغه وروسته به نه خیانتونه وي او نه هم له کفارو سره دوستۍ. په دغه ستره ورځ به د خوشحالۍ او ویاړ له امله د خلکو اوښکې بهیږي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ﴾**

[روم: ۴]

***ژباړه:*** *او په دغه ورځ به مسلمانان خوشالي وکړي.*

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## لیکوال: عبدالله امام اوغلو